Deputy PM for Economic Affairs Office
د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

## (خبرپاڼه)

ګڼه: ۴

نېټه: ۱۴۰۳/۹/۲۲



د افغانســتان د اقتصادي پرمختګ (خبر پاڼه) د ریاست الوزراء اقتصادي معاونیت نوښت دی چــې د افغانســتان تــر ټولو مهم او وروســتي اقتصادي پرمختګونه منعکسوي.

د دې خبر پاڼې په لوستلو سره چې په درېیو ژبو (پښــتو، دري، انګلیــسي) چمتــو او خپریــږي، تاســو کولی شــئ د افغانســتان د وروســتیو اقتصادي پرمختګونو څخه خبر شئ.

**په دې ګڼه کې لولئ:**

۱- د سټنډرډ عالي شورا له لوري د ۳۰ سټنډرډونو تصویبېدل

۲- پاشدان بند کې د اوبو د زېرمه کولو پیلېدل

۳- نوي کابل ښار کې د لومړي فاز د دویم پارسل چارې پیل شوې

# د سټنډرډ عالي شورا له لوري د ۳۰ سټنډرډونو تصویبېدل



د سټنډرډ عالي شورا دویمه غونډه د ۱۴۰۳ کال د لیندۍ په لسمه نېټه په مرمرینه ماڼۍ کې د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ جوړه شوې وه.

یادې شورا کې د سټنډرډ ملي ادارې (انسا) عمومي رئیس ملا فیض الله تمیم، د شورا دایمي غړو او د خصوصي سکټور استازو هم حضور درلود. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال وویل، هېوادوالو ته د معیاري تولیداتو او وارداتو وړاندې کولو له پاره اړینه ده چې سټنډرډونه جوړ او تطبیق شي. محترم ملا صاحب زیاته کړه، دغه معیارونه به هېواد ته د بې کېفیته توکو د واردېدو او کور دننه د بې کېفیته توکو د تولید مخه ونیسي او ولس ته به معیاري توکي وړاندې شي.

محترم ملا صاحب له ټولو ادارو وغوښتل چې تصویب شوي سټنډرډونه په جدي ډول پلي او تعقیب کړي. د سټنډرډ دغې دویمې شورا کې د ساختماني، خوراکي توکو او څښاک، طبي، کانونو، نفتي، نساجي، چاپېریال او د برېښنایي وسایلو په برخه کې ۳۰ سټنډرډونه له هر اړخیز بحث خخه وروسته تصویب شول. دا د ملا صاحب په مشرۍ د سټنډرډ عالي شورا دویمه غونډه وه. د روان لمریز کال د زمري په ۳۰ مه د دې شورا لومړنۍ غونډه شوې وه چې هغه مهال په بېلابېلو برخو کې ۲٤ سټنډرډونه تصویب شوي وو. د شورا په دویمه غونډه کې په بېلابېلو برخو کې ۳۰ سټنډرډونه تصویب شول. یاد سټنډرډونه د سټنډرډ ملي اداره کې د ځانګړو کمېټو له لوري له بحث وروسته تائید شوي او د تصویب له پاره د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال په مشرۍ د سټنډرډ عالي شورا ته استول شوي وو. د یو هېواد د ملي اقتصاد غوړېدو او په نړیوال او سیمه‌ییز بازار کې د باور ساتلو له پاره په منل شویو سټنډرډونو صادرات، واردات او تولیدات ډېر مهم دي. د سټنډرډ عالي شورا د رامنځته کېدو یوه موخه دا ده څو په افغانستان کې د تولیداتو او وارداتو کېفیت تضمین کړي.

د تصویب شویو سټنډرډونو یوه موخه د افغانستان اقتصادي وده او پرمختګ دی. دغه سټنډرډونه کولی شي له نورو هېوادونو سره د افغانستان سوداګریزې اړیکې پراخه کړي. په دې اساس اسلامي امارت ژمن دی چې تصویب شوي سټنډرډونه په سم او مؤثر ډول تطبیق کړي.

# پاشدان بند کې د اوبو د زېرمه کولو پیلېدل

واک ته له رسېدو وروسته اسلامي امارت د افغانستان د اوبو د مدیریت او له خپلو اوبو خخه د سالمې ګټې اخیستنې په موخه ګڼدې هلې ځلې پیل کړې. په دې اړه یې د هغو بندونو ارزونې وکړې چې کارونه یې نیمګړي پاتې وو او له یو جامع پلان جوړولو وروسته یې د دغو بندونو عملي چارې پیل کړې.

اسلامي امارت د نورو برخو ترڅنګ د افغانستان د اوبو مدیریت په خپلو لومړیتوبونو کې نیولی، په دې اړه یې جدي ځکې پیل کړې او په بېلابېلو ولایتونو کې د بندونو جوړولو ته ملا تړلې ده.

د همدې هڅو په لړ کې اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۳ کال د غوايي په نهمه نېټه د هرات کرخ ولسوالۍ ته لاړ او هلته یې د پاشدان بند د نیمګړو چارو د بیا پیلېدو پرانیسته وکړه.

محترم ملا صاحب د پاشدان بند د هرات د خلکو له پاره حیاتي او مهمه پروژه وبلله او د هرات خلکو ته یې ډاډ ورکړ چې د یاد بند چارې به په ښه کېفیت سره بشپړې کړي.

اوسمهال په پاشدان بند کې د اوبو زېرمه کول پیل شوي دي چې ورسره به د هرات ښار او شاوخوا سیمو د ځمکې لاندې اوبو د کمښت ستونزه تر ډېره حل شي او له برېښنا به یې هم خلک مستفید شي. د پاشدان بند د هرات له ښار خخه ۲۵ کیلومتره واټن لرې او

د کرخ په سیند باندې جوړېږي. دغه بند ۱۳ زره هکتاره ځمکه خړوبوي او دوه میګا واټه برېښنا هم تولیدوي.

د تېرو څو لسیزو جګړو له امله افغانستان له سختو اقلیمي ستونزو سره مخ شوی چې یوه یې تر ځمکې لاندې اوبو د کمښت ستونزه ده.

وروستیو کلونو کې د هېواد په ځینو سیمو کې د ځمکې لاندې اوبو کمښت ستونزه ډېره جدي کچې ته رسېدلې ده او اسلامي امارت همدې ستونزې ته په کتو د اوبو د مدیریت له پاره هڅې ګړندۍ کړې دي.

موږ ګورو چې د پاشدان بند په څېر د ګنو بندونو چارې په چټکۍ روانې دي، څو افغانستان کې د جګړو او اقلیمي بدلونونو په پایله کې له رامنځته شویو ستونزو ژر خلاص شي.

د یادونې وړ ده چې څه موده وروسته به په کابل کې د شاه و عروس بند هم ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.

## نوي کابل ښار کې د لومړي فاز د دویم پارسل چارې پیل شوې



د کابل اوسنی ښار ډېره ګڼه ګوڼه لري. اړتیا ده چې د ګڼې ګوڼې د کمېدو له پاره په بدیلو لارو فکر وشي. په تېره اداره کې د کابل ښار د پراخېدو او په ښار کې د ګڼې ګوڼې کمېدو له پاره د نوي کابل ښار پروژه منظور شوې وه، خو د فساد، غاصبینو او جنګسالارانو موجودیت او د تېرې اداري نه جدیت د دې لامل شوی و، چې یاد پروژه په خپل وخت پیل نه شي.

اسلامي امارت چې واک ته ورسېد، نو د دغې لويې ملي، ټولنیزې او اقتصادي پروژې د عملي کولو له پاره یې هلې ځلې پیل کړې. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال محترم ملا عبدالغني برادر اخوند د ۱۴۰۲ کال د زمري په ۲۶ مه نېټه د دغې پروژې د لومړي فاز د دویم پارسل د عملي چارو د پیل پرانېسته وکړه.

محترم ملا صاحب هغه مهال ګډونوالو ته وویل، اسلامي امارت ژمن دی چې افغانستان له سیلابونو سره سیال کړي او په دې لاره کې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کوي، چې د دې پروژې پیل یې ښه بېلګه ده.

محترم ملا صاحب وویل، د نوي کابل پروژه د هېواد په کچه د خصوصي سکټور او اسلامي امارت تر منځ د مشارکت یوه ستره ملي پروژه ده چې کورنیو او بهرنیو پانګوالو ته د پانګونې ښه زمینه برابروي. د ریاست الوزراء اقتصادي مرستیال زیاته کړه، د نوي کابل پروژه د ژوند کولو په ټولو سهولتونو برابره ده چې په بشپړېدو سره به یې له اوسني کابل ښار څخه نوي کابل ته د نفوسو انتقال پیل شي. اوسني ښار کې به ګڼه ګوڼه راکمه او د ترافیکي پېښو مخنیوی به وشي. دغه پروژه چې د اسلامي امارت تر نظارت لاندې د یو خصوصي ساختماني شرکت له لوري پر مخ وړل کېږي، د ۱۴۰۳ کال د لیندۍ په ۲۰ نېټه یې د لومړي فاز د ۲،۶ پارسل (برخې) عملي چارې د ریاست الوزراء اداري مرستیال محترم مولوي عبدالسلام حنفي له لوري پرانېستل شوې. د ریاست الوزراء اداري مرستیال د پرانېستې مراسمو کې وویل، دغه پروژه د هېواد په کچه له سترو ملي او ستراتیژیکو پروژو څخه ده چې د افغانستان اسلامي امارت یې پلي کېدو ته ژمن دی او تطبیق به یې ستر اقتصادي او ټولنیز بدلون رامنځته کړي. د دویم فاز په ۲،۶ پارسل باندې ۷۰۰ میلیونه ډالر پانګونه کېږي.

د نوي کابل ښار پروژه په ۷۴۰ کیلومتره مربع مساحت کې پلي کیږي چې ټولټال ۳۷۰ زره جریبه ځمکه کېږي. دغه نوی ښار به د کابل له اوسني ښار څخه ۱،۵ برابر لوی وي.

د نوي کابل ښار پروژه به په دوه پړاوونو کې په پنځلس کلونو کې بشپړه شي چې د درې نیم میلیونه وګړو د اوسېدو ظرفیت به ولري.

یادې پروژې په کابل ښار کې د پانګونې برخه کې لویه زمینه برابره کړې. د نوي کابل ښار پروژه د بېکارۍ کچې کمولو کې هم مهم رول لري چې زرګونه تنه په کې په مستقیم او غیر مستقیم ډول په کار بوخت دي.

د نوي کابل ښار پروژه د کابل ولایت په ده سبز ولسوالۍ کې عملي کېږي چې د کلکان، شکر درې، قره باغ، استالیف او بګرام ولسوالیو ځینې برخې هم رانغاړي.